NHS

UK Health Security Agency

# آیا مېندواره یاست؟

واکسین مرسته کوي چې تاسو، ستاسو ماشوم او مېندواري درې واړه خوندي یا مصؤن کړي

والګی (آنفلونزا)

تور ټوخی (Pertussis)

تنفسي سنستیال وایروس (RSV)



د نورو واکسینو او د هغې د مناسبو وختونو په اړه د اضافي مشورې سره

immunisation

لاربښود د هغو ورېا واکسینو په اړه دی چې تاسو سره مرسته کوي ترڅو

- ځان
- خپل نوی زېږېدلی ماشوم، او
- خپله مېندواري د

پېچلیو ناروغیو پرورانډې خوندي یا محفوظه کړئ

## واکسین په بدن کې څه ډول فعالیت کوي؟

واکسینونه ستاسو د نوي زېږېدلي ماشوم د بدن دفاعي سیستم پیاوړی کوي، ترڅو وکولی شي د ځانګړیو ناورغیو او وایروسونو پرورانډې مقاومت وکړي.

کله چې تاسو واکسین ترلاسه کوئ ستاسو د بدن دفاعي سیستم پیاوړی کېږي او مرسته کوي چې په ناورغیو له اخته کېدو څخه مخنیوی وکړي او ستاسو مېندواري خوندي کړي. وروسته دغه انتي بادي د مور په نس کې ماشوم ته انتقال مومي ترڅو هغه له زېږون مخکې او له زېږون وروسته د څو اونیو او میاشتو لپاره مصؤن وساتي.

**آیا کولی شم د واکسینو له تطبیق وروسته مې ماشوم ته تی یا شیدې ورکړم؟**

هوو، د MMR، والګي، تور ټوخي او RSV واکسینو له تطبیق وروسته کولی شئ خپل ماشوم ته تی یا شیدې ورکړئ. د ځینو هغو واکسینو لپاره به چې د مېندوارۍ پرمهال یا له هغې وروسته ورکول کېږي، ستاسو په شیدو کې انتي بادي وي، نو په دې صورت کې تاسو کولی شئ خپل نوي زېږېدلي ماشوم ته د تي یا شیدو ورکولو له لارې هغه مصؤن کړئ.

# هغه واکسینونه چې د مېندوارۍ پرمهال تطبیقیږي

## تور ټوخی (پېرتیوزېس)

د تور ټوخي ناروغي يوه خورا ساري ناروغي ده چې کولی شي د تنکيو ماشومانو لپاره جدي ګواښ رامنځ ته کړي. په دغې ناروغۍ اخته ډېری تنکی ماشومان په روغتون کې پالنې يا طبي مراقبت ته اړتيا لري.

تور ټوخی کولی شي د اوږدمهال لپاره د ټوخلېې او ساه لنډۍ لامل شي چې له امله يې تنفسي ستونزې رامنځ ته کېږي. په ټوخي کې شېنوالی له هر ټوخي وروسته د ساه اخيستو له امله رامنځ ته کېږي.

تور ټوخی کېدی شي له 2 تر 3 مياشتو دوام وکړي. دغه ناروغي کېدی شي د سږي د ناروغۍ او دائمي مغزي حملې او مغزي ستونزې لامل شي. که چېرې دغه ناروغي ترټولو بد حالت ته ورسېږي، کېدی شي د مړينې لامل وګرزي.

### ولې د تور ټوخي واکسين ته اړتيا لرم؟

د مېندوارۍ پرمهال د تور ټوخي واکسين به ستاسو د بدن د معافیت کچه لوړه کړي. ستاسو په بدن کې توليد شوي انټي بادي به د جنين له لارې ستاسو ماشوم ته هم انتقال شي. دغه انټي بادي به مرسته وکړي چې ستاسو ماشوم له زېږون وروسته تر څو اونيو پورې د تور ټوخي ناروغۍ پرورانډې مصؤن وساتي.



## څه وخت باید واکسین وکړم؟

تاسو به دغه واکسین په نورمال ډول د معایناتو له ترسره کولو وروسته د خپلې مېندوارۍ په منځنیو مرحلو کې (معمولا د 20 اونیو په ترڅ کې) ترلاسه کړئ، خو کولی شئ دغه واکسین د مېندوارۍ په 16مه اونۍ کې هم ترلاسه یا تطبیق کړئ.

که چېرې تاسو د خپلې مېندوارۍ په 20مه اونۍ کې یاست او لا مو دغه واکسین نه وي ترلاسه کړی، نو په دې اړه د خپل GP جراح یا قابلې سره مشوره وکړئ او د واکسینو د تطبیق لپاره څومره ژر چې کولی شئ ملاقات یا لیدڅمنه چمتو کړئ.

تاسو باید د دې لپاره چې خپل نوي زېږېدلي ماشوم ته غوره مصؤنیت رامنځ ته کړئ، د مېندوارۍ په 32مه اونۍ واکسین وکړئ. که چېرې تاسو دغه واکسین نه وي کړي، بیا هم کولی شئ ترلاسه یې کړئ خو اغېزه به یې یو څه کمه وي. که چېرې د ماشوم له زېږون مخکې نه شئ کولی دغه واکسین ترلاسه کړئ، کولی شئ له زېږون وروسته یې هم ترلاسه کړئ چې په دې سره به ستاسو نوي زېږېدلي ماشوم ته د تور ټوخي د ناورغۍ د انتقال ګواښ کم شي. دا مهمه ده چې د خپلې هرې مېندوارۍ پرمهال د تور ټوخي واکسین وکړئ ترڅو ستاسو په بدن کې د انتي بادي کچه لوړه او ماشوم مو خوندي شي.

## ما فکر کا چې ماشوم ته مې د تور ټوخي واکسین ورکړي دي؟

په UK (بریتانیا) کې د تور ټوخي واکسین ماشومانو ته په 8، 12، او 16 کلنۍ کې ورکول کېږي. ګڼ شمېر هغه نوي زېږېدلي ماشومان چې جدي د تور ټوخي ناروغي لري، له زېږون وروسته په څو لومړیو اونیو کې په یاده ناورغۍ اخته کېږي. په دغې موده کې د خپل ماشوم د مصؤن ساتلو یوازینۍ لاره داده چې د مېندوارۍ پرمهال د تور ټوخي واکسین وکړئ.

## واکسین څومره اغېزه لري؟

په بریتانیا کې ترسره شوې څېړنې ښئي چې د مېندوارۍ پرمهال د واکسینو تطبیق د تور ټوخي له ناروغۍ څخه د نوي زېږېدلي ماشوم د ژغورنې په برخه کې تر 90% پورې اغېزه لري

له واکسینو څخه ترلاسه شوی مصؤنیت په دې مانا هم دی چې د تور ټوخي په ناروغۍ ستاسو د اخته کېدو او ماشوم ته د هغې د انتقال احتمال کمېږي.

## کوم واکسین وکړم؟

دغه راز هغه واکسین چې مورې یې مېرمنو ته د مېندوارۍ پرمهال تطبیقوو د تیتانوس او دفتریا ناورغیو پروړاندې هم مصؤنیت رامنځ ته کوي. دغه مصؤنیت باید د هغو واکسینو په واسطه ترلاسه کړئ چې تاسو یې په ورځني ډول د ماشومتوب پرمهال تطبیقوئ.

تاسو کولی شئ د Adacel واکسین په اړه دلته معلومات ولولئ:
www.medicines.org.uk/emc/product/15553/pil#gref

## آیا د مېندوارۍ پرمهال د تور ټوخي واکسین زیان نه لري؟

د اروپا په ګڼو شمېر هېوادونو، شمالي او سوېلي امریکا، آسترالیا او نیوزلنډ کې د مېندوارۍ پرمهال د تور ټوخي له واکسینو استفاده کېږي او په دې برخه کې یې غوره مصؤنیت رامنځ ته کړی.

ستاسو او ستاسو د ماشوم لپاره د واکسینو تطبیق تر هغې چې نوی زېږېدلی ماشوم مو په تور ټوخي اخته شي، غوره دی.

**«** **د خپلې هرځل مېندوارۍ پرمهال د تور ټوخي واکسینو د تطبیق په واسطه د خپل ماشوم په خوندي ساتنه یا مصؤنیت کې مرسته وکړئ. ډاډ ترلاسه کړئ چې ماشوم مو د تور ټوخي ضد ټول د 8، 12 او 16 اونیو واکسینونه ترلاسه کړي.**

## سنسیتیال تنفسي وایروس (RSV)

سنسیتیال تنفسي وایروس RSV یو ډول عام وایروس دی چې کولی شي د سږیو د ناورغی چې د برانشیټ په نامه یادېږي لامل وګرزي. دا ډول ناوړه روغتیایي حالت کېدی شي د کوچنیو ماشومانو لپاره د دې لامل وګرزي چې په سختۍ سره ساه واخلي او خواړه وخوري. په انګلستان کې هر کال شاوخوا 20,000 نوي زېږېدلي ماشومان چې په برانشیټ ناروغۍ اخته دي په روغتونونو کې بستر کېږي چې ځینې یې جدي پاملرنې ته اړتیا پیدا کوي. د دغو ناورغانو له ډلې محدود شمېر یې مړه کېږي.

RSV ناورغي کېدی شي په خورا تنکیو، له وخته مخکې زېږېدلیو، د قلبي ستونزو لرونکو، او هغو ماشومانو کې شدیده وي چې تنفسي ستونزې یا د بدن کمزوری دفاعي سیستم لري. RSV ناروغي کېدی شي د کال په هر موسم کې شیوع وکړي، خو شدت یې هرکال د ژمي په موسم کې وي.

### ولې باید د RSV واکسین وکړو؟

د مېندواری پرمهال د RSV واکسینو تطبیق به ستاسو د مصؤنیت کچه لوړه کړي. ستاسو په بدن کې تولید شوي انتي بادي به د مور په نس کې ستاسو ماشوم ته انتقال شي. دغه انتقال شوی انتي بادي به له زېږون وروسته د RSV ناروغۍ پروړاندې د هغې په مصؤن ساتنه کې مرسته وکړي.

### څه وخت باید واکسین وکړو؟

دغه واکسین باید تاسو ته د مېندوارۍ په 28مه اونۍ کې وړاندې شي.

تاسو باید خپل واکسین د مېندوارۍ په 28مه اونۍ یا ممکنه ژر فرصت سره وکړئ. دا به تاسو سره مرسته وکړي چې په بدن کې مو د انتي بادي کچه لوړه او تولید شوي انتي بادي له زېږون مخکې خپل ماشوم ته انتقال کړئ.

تاسو د خپلې مېندوارۍ په وروستیو مرحلو کې هم کولی شئ خپل واکسین وکړئ خو اغېزه به یې یو څه کمه وي. که چېرې ستاسو لپاره ممکنه نه وه چې په وخت سره واکسین وکړئ، بیا هم دا فرصت لرئ چې تر زېږون پورې خپل واکسین وکړئ.

تاسو باید د خپلې هرځل مېندوارۍ پرمهال د RSV واکسین وکړئ ترڅو خپل نوي زېږېدونکي ماشوم ته غوره مصؤنیت رامنځ ته کړئ.

## د RSV واکسین څومره اغېزه لري؟

څېړنې ښئي چې له زېږون وروسته تر لومړنیو 6 میاشتو پورې د RSV واکسین په تطبیق سره د برانشیټ په شدیدې ناروغۍ د ماشوم د اخته کېدو ګواښ تر 70% پورې کمېږي.

واکسین هم لکه د نورو هر ډول درملو په شان بشپړه اغېزه نه لري او کېدی شي ځینې ماشومان د دې سره سره چې مور یې د RSV واکسین هم کړې وي په یاده ناروغۍ اخته شي. نو له واکسین شویو میندو څخه د ډېری زېږېدلیو ماشومانو لپاره باید د RSV ناروغي شدیده نه وي.

## زه باید کوم ډول واکسین وکړم؟

تاسو کولی شئ په دې اړه معلومات دلته ترلاسه کړئ: www.abrysvo.com/

## آیا د مېندوارۍ پرمهال د RSV واکسینو تطبیق زما د ماشوم لپاره زیان لري؟

په شاوخوا 4,000 مېرمنو باندې د ترسره شویو طبي څېړنې له مخې، واکسینو غوره مصؤنیت رامنځ ته کړی او دغه واکسینونه اوس په بریتانیا، اروپا او امریکا کې د درملو د تنظیم د ادارو لخوا تصدیق شوي دي. په زرګونو مېرمنو د واکسینو د تطبیق د ملي پروګرامونو له لارې دغه واکسین تطبیق کړي دي، چې له دې ډلې تر 100,000 ډېرې هغه مېرمنې چې دغه واکسین یې تطبیق کړی د امریکا په متحده ایالاتو (USA) کې دي.

د دغې طبي څېړنې په ترځ کې، د هغو ماشومانو په پرتله چې میندو یې واکسی نه وو کړي د هغو ماشومانو شمېر یو څه ډېر وا چې مېندو یې دغه واکسین تطبیق کړي وو. داسې ښکاري چې دغه توپیر ښائي یو تصادف وي، خو دا یو له هغو دلائلو څخه دی چې واکسین د مېندوارۍ د لومړیو مرحلو پرځای د مېندوارۍ له 28مې اونۍ څخه وروسته ورکول کېږي. په ټوله کې دغه واکسین ستاسو او ستاسو د ماشوم لپاره تر دې محفوظ او بهتره دی چې ستاسو نوی زېږېدلی ماشوم په RSV ناروغۍ اخته شي.

> **«** **خپل نوي زېږېدلي ماشوم ته د ژوند په لومړنیو 6 میاشتو کې د غوره مصؤنیت رامنځ ته کولو په موخه، د مېندوارۍ پرمهال د RSV واکسین وکړئ.**

## آنفلونزا (والگی)

### والگی څه ډول یوه ناورغي ده؟

والگی یو له خورا ساري ناورغیو څخه ده چې اعراض او علائم یې عبارت دي له تبې، لړزې او درد، سر دردی او شدیدې ستړیا څخه. مېندواره ښځې د نورو په پرتله د والگي ناروغۍ په شدید ډول د اخته کېدو د لوړ ګواښ سره مخ دی، په ځانګړي ډول د مېندوارۍ په وروستیو مرحلو کې، چې په دغو ګواښونو کې تور ټوخی او حتی مړینه شامل دي.

والگی کولی شي ستاسو د مېندوارۍ لپاره هم ګواښ و اوسي، چې له امله یې کېدی شي تر وخت مخکې زېږون، د ماشوم کم وزني او د ماشوم په مړه ډول زېږېدنه رامنځ ته شي.

دغه راز والگی کېدی شي ستاسو د نوي زېږېدلي ماشوم او تنکیو ماشومانو لپاره هم جدي ګواښ رامنځ ته کړي.

### ولې د مېندوارۍ پرمهال د واکسینو تطبیق ته اړتیا ده؟

د والگي واکسین په شدید ډول په یاده ناروغۍ د اخته کېدو، په روغتون کې د بسترېدو یا د مېندوارۍ پرمهال د جدي مراقبت یا پاملرنې ګواښ کموي. دغه راز یاد واکسین مېندوارۍ پرمهال د پېچلیو ستونزو د رامنځ ته کېدو ګواښ هم کموي.

دغه واکسین د والگي پروړاندې ستاسو د بدن انتي بادي پیاوړې کوي چې بیا وروسته دغه انتي بادي ستاسو په ګېډه کې ماشوم ته انتقال کوي. دا واکسین ستاسو د نوي زېږېدلي ماشوم د ژوند په لومړنیو میاشتو کې د هغه لپاره مصؤنیت رامنځ ته کوي.

دغه راز د دغه واکسین په تطبیق سره به په والگي ناروغۍ ستاسو د اخته کېدو او د ژمي په موسم کې ستاسو ماشوم د هغې د انتقال چانس کم شی.

### دغه واکسین باید په څه وخت کې وشي؟

د والگي واکسین هرکال معمولا په سپټمبر کې وي چې د مېندواره مېرمنو لپاره وړیا دي.

تاسو باید دغه واکسین په سپټمبر میاشت کې چې د لاسرسي وړ وی وکړئ، دا مهمه ده نه ده چې د مېندوارۍ په کومه مرحله کې یاست. بهتره دا ده چې دغه واکسین د والگي موسم له راتلو مخکې وشي، خو که و مو نه کړل کول شئ هر وخت یې په ژمي کې وکړئ.

تاسو باید دغه واکسین د والگي په موسم کې د هرځل مېندواره کېدو پرمهال وکړئ.

## آیا د والګي واکسینو تطبیق د مېندوارۍ پرمهال مصؤن دی؟

له 2009 راهیسې ګڼ شمېر هېوادونو د مېندوارۍ پرمهال د والګي واکسینو ورانديز کړی، او په انګلستان کې تر 2 ملیونه ډېرو مېندواره مېرمنو ته دغه واکسین تطبیق شوی دی. دغه واکسین د مصؤنیت په برخه کې ښه مخینه یا اعتبار لري.

په ټوله کې د واکسینو تطبیق ستاسو لپاره تر هغې غوره دی چې تاسو یا ستاسو په والګي ناروغۍ اخته شئ.

## د والګي واکسین تر کومې کچې اغېزمن دی؟

د مېندوارۍ پرمهال د آنفلونزا واکسین په تطبیق سره په والګي یا ورته ناورغیو باندې ستاسو او ستاسو د ماشوم د اخته کېدو ګواښ پنځوس سلنه کمېږي. له زېږون وروسته د ژوند په لومړینو 6 میاشتو کې د والګي ناروغۍ له امله په روغتون کې د نویو زېږېدلیو ماشومانو د بسترېدو احتمال د نورو هغو په پرتله تقریبا 70% کم دی.

**«« والګی کېدی شي د مېندواره مېرمنو او د هغوی د نویو زېږېدلیو ماشومانو لپاره یوه جدي ناروغي و اوسي. مېندواره مېرمنې باید د خپلې هرې مېندوارۍ پرمهال د والګي وړیا واکسین ترلاسه کړي.  دغه واکسین کېدی شي له سپټمبر وروسته د مېندوارۍ په هره مرحله کې تطبیق شي.**

### دمګړی باید څه وکړم؟

کولی شئ خپل د GP ډاکټر، قابلې یا روغتیايي ټیم سره مشوره وکړئ ترڅو تاسو لپاره د واکسینو د تطبیق په موخه لیدژمنه یا ملاقات چمتو کړي. د والګي، تور ټوخي او RSV واکسینونو ټول په مټ کې د تزریق له لارې ورکول کېږي. د دغه واکسین عامه جانبي عوارض خفیف او په لاندې ډول دي:

- د تزریق په سیمه کې درد او سوروالی
- د سر او عضلاتو درد
- خفیفه تبه او ستړیا

د والګي په اړه لارښود کولی شئ په لاندې لېنک کې وګورئ:

www.gov.uk/government/publications/flu-vaccination-who-should-have-it-this-winter-and-why

## مخکې له دې چې مېندواره شئ

که چېرې تراوسه مېندواره نه یاست، خو دا هیله لرئ چې په نیژدې راتلونکې کې به مېندواره شئ، باید ډاډ ترلاسه کړئ چې د خپلو نورو واکسینو په اړه تازه معلومات لرئ.

### روبیلا (د جرمنی شری)

روبیلا معمولا یوه خفیفه ناروغي ده چې د جلدي بخاراتو لامل ګرزي.

د مېندوارۍ پرمهال په روبیلا ناروغۍ اخته کېدل ښائي ستاسو د ماشوم لپاره خورا جدي وي، او کېدی شي په رحم کې د شري سنډروم (CRS) په نامه د ناروغۍ لامل شي. CRS کېدی شي د کڼوالي، ړندوالي (د سترګو د ستونزو)، قلبي ستونزو او/یا په بطي ډول د ودې یا نمو لامل شي. همدارنګه دغه ناورغي کولی شي د ماشوم د مړینې لامل شي.



## د مېندوارۍ پرمهال د روبيلا ناروغۍ پروړاندې مصؤنيت ترلاسه کول

که چېرې تاسو په ماشومتوب کې د MMR واکسينو دوه دوزه تطبيق کړي وي، نو تاسو به د مېندوارۍ پرمهال په سمه توګه خوندي وئ. مور د واکسينو د تطبيق په برخه کې له خپلو برياليو پروګرامونو څخه مننذوی يو، روبيلان ناروغي اوس په بريتانيا کې په ندرت سره موندل کېږي.

که چېرې مطمئن نه ياست چې آيا دغه واکسين مو تطبيق کړی که نه، نو کولی شئ په دې اړه د خپل GP جراح سره مشوره وکړئ. که چېرې مو خپل دغه واکسين نه وي کړی، نو بهتره ده چې له مېندوارۍ مخکې خپل واکسين تطبيق کړئ. که چېرې مو بیاهم دغه واکسين و نه کړ، نو بايد د ماشوم له زېږون وروسته يې فورا وکړئ.

د MMR واکسينو په ترکيب کې ژوندی (کمزوری شوی) وايروس موجود دی، نو توصيه دا ده چې د مېندوارۍ پرمهال دغه واکسين و نه شي.

## زه مېندواره يم خو خپل MMR واکسين مې لا نه دي کړي، څه بايد وکړم؟

کله مو چې زېږون وکړ، کولی شئ له زېږون وروسته خپل د MMR واکسين وکړئ. د دغه واکسين په تطبيق سره به تاسو خپل ځان او نوی زېږېدلی ماشوم د شري او روبيلا ناورغيو پروړاندې خوندي کړئ. د MMR واکسينو د دواړو دوزونو تطبيق به هم وکولی شي تاسو د اوږدې مودې لپاره د شري او ډډغومبوري ناورغيو پروړاندې خوندي وساتي.



## د مېندوارۍ پرمهال جلدي ستونزې یا بخارات

**که چېرې د جلدي ناروغ سره په تماس کې شم یا هم خپله جلدي ناروغي یا بخارات ولرم، نو څه باید وکړم؟**

ځینې هغه ناورغۍ له امله یې جلدي ستونزې یا بخارات رامنځ ته کېږي لکه روبیلا، کولی شئ د مېندوار مېرمنو لپاره ناوړه او پېچلی روغتیایي حالت رامنځ ته کړي. حتی که تاسو له روبیلا ناروغۍ څخه خوندي هم وئ، باید خپلې قابلې، GP یا د نسائي ولادي متخصص/متخصصې ته ووایئ چې آیا د مېندوارۍ په دوران کې مو ږ کومه جلدي ناروغي درلوده کنه یا دا چې آیا په دې موده کې د کوم بل داسې شخص سره چې په دغه ناروغۍ اخته وي په اړیکه کې شوي یاست.

هیله کوو تر هغې چې معاینه مو نه وي شوې ، په دې اړه له هرډول زېږون مخکې درملنې څخه ځان وساتئ.

کېدی شي له تاسو څخه د معاینې غوښتنه وشي ترڅو وپتېیل شي چې آیا په دغې ناروغۍ مبتلا یاست که څنګه. هغه روغتیایي متخصصین به چې ستاسو ارزونه کوي، اړتیا ولري پوه شي چې:

- د څو اونیو مېندواره یاست
- په جلدي ناروغۍ د اخته شخص سره ستاسو اړیکه یا تماس څه وخت وا
- د دغې ناروغي اعراض او علائم او یا هم مبتلا شخص سره ستاسو اړیکه په څه وخت کې وه
- ستاسو د جلدي ناروغیو اعراض یا توضیحات څه دي (آیا دغه بخارات د دانو په شان دي که له اوبو ډکې پولی یا پوکانې دي؟)
- پخوا مو څه ډول ناروغي درلوده، مثلا دا چې آیا بوزکانې یا شری مو تېر کړی که څنګه
- پخوا مو څه ډول واکسین تطبیق کړي دي

**« که چېرې تاسو په جلدي ناروغیو د اخته شخص سره په اړیکه کې کېږئ یا دا چې د مېندوارۍ پرمهال په دغې ناروغۍ اخته کېږئ، نو له ځنډ پرته په دې اړه د خپل GP (عمومي ډاکټر) یا قابلې سره مشوره وکړئ. که چېرې د خپلې جلدي ناروغۍ په اړه په وخت سره خبر ور نه کړئ، کېدی شي دقیق تشخیص یا ستاسو لپاره توصیه شوې درملنه ناممکنه وي.**

## د خپلې قابلې سره د نورو واکسینو په اړه مشوره

### کوویډ-19

د میندوارۍ پرمهال په کوویډ-19 د اخته کېدو ګواښ د یادې ناروغۍ د شیوع د پیل په پرتله ډېر لږ دی، خو مېندوارۍ ښځې په مني کې هم کولی دغه واکسین تطبیق کړي. د واکسینو په تطبیق سره به د څو میاشتو لپاره په جدي کوویډ-19 د اخته کېدو چانس را کم شي، چې دا کار یعني د واکسینو تطبیق له هغه ځخه چې د یادې ناروغۍ له امله بستري کېږئ، په ځلونو غوره او مهم دی. ستاسو په بدن کې تولید شوي انتي بادي به ستاسو ماشوم ته انتقال او د هغه د ژوند په لومړنیو اونیو او میاشتو کې به د هغه لپاره یو څه مصؤنیت رامنځ ته کړي.

### Hepatitis B (تور زېړی)

هغه ماشومان چې په تور زېړي له اخته میندو زېږي (یا یې د مېندوارۍ پرمهال د تور زېړي معاینه مثبته وي) باید د زېږون سره سم د hepatitis B یا تور زېړي واکسین وکړي. د واکسینو د اضافي دوزونو د تطبیق او د وینې د معاینې په موخه باید د خپل ماشوم/ماشومې لپاره هغه مهال چې هغوی 1 کلن کېږي، خپل GP جراح سره لیدژمنه یا ملاقات چمتو کړئ ترڅو د دغې ناروغۍ د تشخیص په موخه معاینه ترسره کړئ.
www.gov.uk/government/publications/protecting-your-baby-against-hepatitis-b-leaflet

## BCG (د توبرکلوز او نورو مایکرو باکتري ناروغیو واکسین)

هغه ماشومان چې والدین (یا نیکونه) یې د TB (توبرکلوز) ناروغۍ په پېژندل شویو هېوادونو کې استوګنه کوي، باید له یادې ناروغۍ څخه د مصؤنیت په موخه د BCG واکسین وکړي. www.gov.uk/government/publications/tb-bcg-and-your-baby-leaflet

**« د مېندوارۍ پرمهال (او له زېږون وروسته) د توصیه شویو واکسینونو تطبیق یو له هغو اغېزمنو طریقو څخه ده چې په مټ یې کولی شئ ځان او ماشوم ته مو یادو ناروغیو له امله د متوجه ګواښونو کچه راټیټه کړئ.**

**د ژوند په ۸مه، ۱۲مه او ۱٦مه اونۍ کې خپل نوي زېږېدلي ماشوم ته د واکسینو تطبیق په دې مانا دی چې د واکسینو په واسطه رامنځ ته شوی مصؤنیت به د هغوی د ژوند تر مهمو پړاوونو پورې دوام وکړي.**

### د اضافي معلوماتو لپاره لینکونه

- www.nhs.uk/Conditions/vaccinations/Pages/vaccination-schedule-age-checklist.aspx
- www.gov.uk/government/collections/immunisation
- www.medicines.org.uk/emc/
- د خپل ماشوم د ژوند په لومړنیو کلونو کې د واکسینو د تطبیق په اړه د نورو معلوماتو لپاره کولی شي www.gov.uk/government/publications/a-guide-to-immunisations-for-babies-up-to-13-months-of-age وګورئ

# د مېندوارۍ د واکسینو ثبت

خپل د مېندوارۍ واکسین لاندې ثبت کړئ ترڅو ډاډ ترلاسه شي تاسو او ستاسو ماشوم د والګي او تور ټوخي پروړاندې د واکسینو مصؤنیت له لاسه نه ورکوئ

| واکسین | کله باید واکسین وکړو | د واکسینو د تطبیق نېټه |
|---|---|---|
| والګی | د والګي په موسم کې د مېندوارۍ په هر پړاو کې. | |
| تور ټوخی | معمولا د معاینې له 18مې تر 20مې اونۍ پورې. کېدی شي د مېندورای له 16مې اونۍ تر زېږون پورې يې وکړئ. | |
| RSV | تاسو باید خپل د RSV واکسین د مېندوارۍ په 28مه اونۍ کې وکړئ. | |
| د MMR واکسینو 1ی دوز* | وروسته له هغې چې ماشوم مو زېږي، له زېږون وروسته د معاینې په 6مه اونۍ (په دې اړه د نورو معلوماتو لپاره د خپل GP یا نرس سره مشوره وکړئ). | |
| د MMR واکسینو 2م دوز* | له لومړي دوز څلور اونۍ وروسته (د پورته مطابق). | |

*که چېرې مو ړ پخوا واکسین نه وي کړي

د مېندوارۍ پرمهال د واکسینو تطبیق تاسو سره مرسته کوي چې خپله مېندواري مصؤنه یا خوندي کړئ. د خپلې قابلې GP (عمومي ډاکټر) یا روغتیایي ټیم سره مشوره وکړئ او ډاډ ترلاسه کړئ چې دغه واکسین مو په مناسب وخت کې تطبیق کړي.



© Crown copyright 2024
24PYPB01PAS Pashto. 1P 250K OCT 2024 UK
Health Security Agency gateway number: 2024709
لومړی نشریه د 2024 کال جون میاشت

دا لارښود په نورو ژبو هم ترجمه او د لاسرسي وړ فارمټونو کې ترتیب شوی دی. د دغه لارښود د نورو کاپیانو د غوښتنې لپاره دغه لېنک ته ورشئ: www.healthpublications.gov.uk یا هم لاندې شمېرې سره په اړیکه کې شئ: 0300 123 1002، Minicom: 0300 123 1003 (له دوشنبه تر جمعې د سهار له 8am د مازدیګر تر 6pm)

**www.nhs.uk/conditions/vaccinations/nhs-vaccinations-and-when-to-have-them**